**بسم الله الرحمن الرحيم**

## اې مسلمانانو! دا رمضان د ماتې او او محکومیت په وروستي رمضان بدل کړئ!

**(ژباړه)**

دا یو سل دویم رمضان دی چې له خلیفه او خلافت پرته یې د استعماري دولتونو تر سیوري لاندې تېروو. پر دې غوره امت څه شوي دي؟! ایا شمېر یې کم دی یا ځواکونه یې کمزوري شوي، چې د سیکولریزم او ډیموکراسۍ په جامه کې د موډرن صلیبي یرغل مخه نشي نیولی؟! په داسې حال کې چې پر خپلو دښمنانو باید برید وکړي او یا په وینو لړلي غشي د هغوی په لوري وار کړي، ترڅو ککرۍ یې ماتې کړي، یرغلګر وشړي او خپلې خاورې د صلیبي پانګوال نظام له چټلیو څخه پاکې کړي. د دغه امت د ماتې او هغه دښمن ته یې د مجبورۍ راز څه دی، چې د اسلامي دولت له منځه وړونکی، ظالم، د امت د اولادونو قاتل او د امت د مالونو او شتمنیو لوټونکی دی؟!

ټول مسلمانان په دې پوهېدل چې دغه امت په مصیبتونو کې راګیر شوی، خو په درملنه یې نه پوهېدل. تر دې چې یو کس راپورته کېږي، د امت تېر وختونه مطالعه کوي او د هغه وخت لامل یې لټوي، د دغه امت تاریخ او میراث ارزوي، چې پخوا څه ډول و او اوس څنګه دی؟ نوموړی پوهېږي چې دغه امت یو غوره او لوی امت و، چې لوی دولت، پرمختللی تمدن، پراخ فرهنګ او ژور فکر یې درلود او دیارلس سوه کاله یې پر دریو لویو وچو حکومت کړی دی. لنډه دا چې دغه کس خپلو څېړنو ته دوام ورکوي، د امت د نهضت رمز او د هغه د سقوط لامل پیداکوي، د هغه مبداء او اصل ته رسېږي، فکري ګردونه او ابهامات ترې لرې کوي، ترڅو خپله فکره یې پاکه او صافه شي. وروسته بیا د خپلې طریقې په لټه کې شو، تر دې چې هغه یې هم په سم ډول پیدا کړه او د فکرې او طریقې تر منځ اړیکې ته یې پام شو او دې پایلې ته ورسېد چې د فکرې او طریقې تر منځ یو نه بېلېدونکی تړاو شته دی. پر همدې اساس یې مبدائي حزب رامنځته کړ، چې د وخت په تېرېدو سره یې پرمختګ وکړ او په پایله کې پر یوه بشپړ تحریري حرکت او ډلې بدل شو! د الله سبحانه وتعالی په فضل او مهربانۍ سره ټولو ته معلومه ده، چې دغه حزب د نبوت پر منهج د خلافت لپاره کار کوي. څوک چې پر الله سبحانه وتعالی ایمان ولري، اخلاص پکې وي او د امت د ژغورلو هڅې کوي، له دغه حزب سره باید یو ځای شي او نصرت ورکړي، ترڅو د چوپ کېناستو او د بیعت نه درلودو له ګناه څخه وژغورل شي او بالاخره له دنیا څخه د جاهلیت پر مرګ لاړ نه شي.

**﴿شَهرُ رَمَضَانَ الَّذِی أُنزِلَ فِیهِ الْقُرْءَانُ هُدًی لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنَٰتٍ مِّنَ الْهُدَیٰ وَ الْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنکُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ﴾** [بقره: 185]

***ژباړه:*** *رمضان هغه میاشت ده چې په هغې کې قران نازل شوی دی، ترڅو خلکو ته هدایت وکړي. د لارښوونې څرګندې نښې او ایتونه دي او د (حق او باطل تر منځ په هره برخه کې) بېلوونکی دی. نو پر چا چې دغه میاشت راشي، په هغې کې باید روژه ونیسي.*

الله سبحانه وتعالی د قرآن په نازلولو سره دغه میاشت مبارکه کړه! په دغه میاشت کې یې روژه فرض کړه، تر څو مونږ په کې د لارښود قران شکرانه اداء کړو او درناوی یې وکړو. همدارنګه الله سبحانه وتعالی د قرآن حمل او عامو خلکو ته یې رسول پر هر مومن واجب کړي، ترڅو خلک د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه له ګمراهۍ څخه وژغورل شي او د جهل او ناپوهۍ له تیارو څخه د روښنایۍ په

لوري راووځي. يوازې په روژه بسنه کول او د قرآن حمل او د نبوت پر منهج د هغه د تطبيق لپاره دعوت ځېدول يو ناروا کار دی؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم قرآن د عامو خلکو لپاره حمل کړ، دولت يې تاسيس کړ او د هغه احکام يې چې د حق او باطل بېلوونکي دي، تطبيق کړل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه کړنلاره د ټولو لپاره يوه الګوه او نمونه ده. پر همدې اساس يو مسلمان څنګه په دې راضي کېږي، چې له قرآن پرته دې نور احکام تطبيق او وضع کړي او د خلکو رهبري دې پر غاړه واخلي، په داسې حال کې چې د شريعت سيادت او رهبري نه مني، که څه هم د روژې، لمانځه، زکات او حج په څېر فرض ده؟!

د رمضان مياشت؛ د جهاد، فتحو او بريالیتوبونو مياشت ده! الله سبحانه وتعالی غوښتل چې د مسلمانانو لومړنۍ جګړه دې په همدې مياشت کې پېښه شي او د بدر له جګړې سره سم روژه هم په همدې کال فرض شوه، ترڅو د مسلمانانو پام دې ته راواړوي، چې روژه او جهاد دواړه فرض دي او له يو او بل سره توپير نه لري. روژه يوازې له خوراک او څښاک څخه ځان ساتل نه دي، بلکې له يوه لوی عبادت يعنې في سبيل الله جهاد سره قرينه شوې ده. مسلمانانو د اسلام په لومړيو کې دا درک کړې وه او د رمضان په مياشت کې يې جهاد ونه ځنډاوه، بلکې له سترو فتحو او بريالیتوبونو څخه برخمن شول. د بدر جګړه، د مکې فتحه، د قادسيې جګړه، د اندلس فتحه، د زلاقه جګړه، عين جالوت، حطين، د بيت المقدس ازادول، پاريس ته نږدې د بلاط الشهداء جګړه، د عموريې او انقرې فتحه ټول د رمضان په مياشت کې ترسره شول! رمضان، د خوب کولو، په روژه‌ماتي او پېشلمي کې د دسترخوان اوارولو، د خوراک او څښاک، ساتېرۍ او د فلمونو د کتلو مياشت نه ده، بلکې رمضان د روژې نيولو، جهاد، قيام اليل او د قرآن د تلاوت مياشت ده.

د اسلامي امت لپاره شرعي اوامر يوازې د قرآن، احاديثو، نبوي سيرت او د اصحابو اجماع ده، چې همدغه شرعي سرچينې او مصادر دي. دغه ټول شرعي اوامر او صحيح مصادر د امت د تاريخي حقايقو ترڅنګ، پر دې ټينګار کوي، چې د خلافت دولت لپاره بايد کار وشي او اسلام بايد تطبيق شي. حقيقي مبداء خپل پيروان دې ته رابولي، چې ځانونه بايد يوازې په دننه کې منحصر او محدود نه کړي، بلکې له ټولو حرکتونو او افکارو سره بايد مبارزه وکړي، ترڅو له خپلې مبداء پرته هېڅ سيادت او رهبري پاتې نه شي او يوازې خپله مبداء او نظام پر خپل ځان پلی کړي او برعکس پرديو وضعي قوانينو او ارزښتونو ته بايد شا کړي او هېڅ ارزښت ورنه کړي.

﴿فَلَا وَ رَبِّکَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾ [نساء: 65]

***ژباړه:*** *مګر، نه! ستا په رب قسم چې دوی تر هغه وخته مومنان نشي کېدای، ترڅو چې په خپلمنځي شخړو کې تا فيصله کوونکی ونه ګڼي.*

د مسلمانانو اوسنی واقعيت دا دی چې له هغوی څخه غوښتنه کېږي، ترڅو د خلافت د تاسيس لپاره چې له هغه پرته د خلاصون او نهضت بله لار نشته ده، کار وکړي. هر هغه چاته چې زړه يې پاک او غوږونه يې د اورېدو توان لري، يادونه کېږي چې د خلافت د تاسيس لپاره، چې د امت د ژغورنې يوازينۍ لاره ده، لاس پکار شي.

هو، پر مسلمان امت واجب ده چې ټول بشريت بايد د ظالم پانګوال نظام له اور څخه وژغوري! دا د امت مسؤليت دی چې نړۍ له کفر، ظلم، ګمراهۍ او غلامۍ څخه ازاده کړي او همدارنګه د ملکيت د ازادۍ تر نامه لاندې يې په باطل ډول د مالونو د ضايع کېدو مخه ونيسي او د شخصي ازادۍ، ډيموکراسۍ او د انسان د حقونو تر نامه لاندې د رذالت ډنډ ته له لوېدو څخه يې وژغوري.

﴿**وَ كَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ**﴾ [بقره: 143]

***ژباړه:*** *له شک پرته چې تاسو مو وسط امت گرځولي یئ ترڅو پر نورو خلکو شاهدان وئ.*

د رمضان میاشت د ایمان تر فضا لاندې ده او تقوا او معنوي اړیکې پرې حاکمې دي! تقوا له خپل رب سره د مسلمانانو د نږدېوالي لاره ده او دا د روژې له برکته رامنځته کېږي.

﴿**يَٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ**﴾ [بقره: 183]

***ژباړه:*** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسو روژه واجب شوې ده، لکه څنگه چې له تاسو څخه وړاندې په نورو کسانو واجب شوې وه، ترڅو تقوا غوره کړئ.*

دغه ایماني  فضا یو مسلمان کس د نیکو عملونو لپاره تحریکوي او دې ته یې رابولي چې له لومړي امر څخه یې پیل کړي او لومړی امر د ارزښتونو زینه ده؛ یعنې راشده خلافت چې اساسي لومړیتوب دی، ځکه د هغه په واسطه نور احکام تطبیق او ټول واجبات او مسؤلیتونه اقامه کېږي؛ مالونه، ارزښتونه او خاورې یې ساتل کېږي. پر موږ لازمه ده چې مسلمانانو ته د اساسي لومړیتوبونو له یادونې څخه ستړي نه شو؛ ځکه هر مسلمان مسؤل دی چې نیک کارونه وکړي، د نورو پر وړاندې خپله غاړه خلاصه کړي، له اړمنو خلکو سره مرسته وکړي او په حق لاره کې خپلې گټې له پامه وغورځوي او همدا یې باید عادت وگرځي. په داسې حال کې چې بیا یو مخلص او پوه رهبر د دوی د چارو مسؤلیت پر غاړه واخلي، دا نو تقریبا هر ناممکن کار دوی ته ممکن کوي.

اسلامي امت یو اصیل او بنبونکی امت دی او هرڅومره چې له لوږې، کمزورۍ او ظلم سره مخ شي، بیا هم قیام کوي او د زورور سیلاب په څېر په حرکت راځي. د صلیبیانو او مغولو په وخت کې له ډول ډول مصیبتونو سره مخ شو، مگر قیام یې وکړ او بېرته د یوه لوی دولت څښتن شو. همدا اوس چې له هر ډول ستونزو او ناخوالو سره مخ دی، خو بیا هم ژوندی دی او ان له دوی سره د جگړې په ډگر کې د لویو دولتونو ماتې خوړلې دي او نږدې ده چې دغه امت د امریکا ټغر ور ټول کړي او تر څنگ یې غربي دولتونه په اسلامي خاورو کې د مزدورو نظامونو پر ضد په انقلاب سره رانسکور کړي؛ ځکه د امت پوهاوی زیات شوی، که څه هم بشپړ شوی نه دی، مگر ډېر ژر به بشپړ شي! په دې دلیل چې دا یو غوره امت دی چې د خلکو د لارښوونې لپاره پیدا شوی دی، له قوي مبداء څخه برخمن دی، له ځان سره یو پوه حزب لري او د الله سبحانه وتعالی په مرسته به بریالی شي!

**لیکوال: أسعد منصور**

**له 435 گڼې څخه اخیستل شوی**

**الرایه جریده**

**ژباړن: سلیمان یوسف**